AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۶/۲۸

# د وخت ماشین

## لنډه قصه

په باغچه کي ئي زموږ سره فلم کتی. یو دم ولاړ سو. کیسه ښه جالب ځای ته رسېدلې وه. د فلم اتل په ټایم مشین کي خپل تېر ژوند ته ورګرځېدلی وو، او نوستالجیا ئي، چي کلونه یوازي د زړه په حافظه کي اوسېدله، په حقیقت بدله کړې وه. نه باید همدا وخت وتلی وای. سګرېټ خو ئي دا لس دقیقې مخکي څکولی وو. نو بیا ولي ووتی؟

یو خو زه تر ننه په دې نه یم پوه سوی چي دا بسته کورونه زموږ وطنداران باغچي ولي بولي. په انګړ کي ئي کرل سوې ترکاري څو دستې نعنا او ګندنه کېږي، څکه؟ د دوبي دپاره یوه جونګړه خو لا پرېږده، سم دم سرای وي، خو بیا هم باغچه ورته وایي. خیر، په حاجي صاحب مي ګروم سو، پسې ورووتم. ما ول خدای مه کړه پر کوم څه خوابدی سوی نه وي، له کوربه، زما یا له نورو انډیوالانو څخه.

که ګورم، دی د چمن پر یوې چوکۍ ناست وو. د ورځي وروستی سګرېټ ئي څکوی او خالي قطی ئي په بل لاس کي سره اړول رااړول. دود ئي د مالمو سوړ، چوپ او بې احساسه آسمان ته ختی. ده تشي هوا ته کتل، لکه یو څه چي وینی! په دې تیاره ماښام او له تورو وریځو ډک آسمان کي خو نه ستوري معلومېدل او نه سپوږمۍ، نو نېخه څه ئي څارل؟

د څنګ چوکۍ مي راکش کړه. ږغ ئي دی له چرتونو راوېښ کړ. ورسره کښېنستم. ده اول ماته وکتل، بیا ئي سګرېټ ته تکان ورکړ، ایرې ئي وروړژولې او بیرته ئي سترګي آسمان ته ونیولې.

د خبرو لپاره مناسب لفظونه مي ذهن ته نه راتلل، خو ولاکه چي څنګه دا سوال مي تر خلې راووت:

ــ حاجي صاب، دا د فلم ټایم مشین که تا ته درکي، چیري به سفر پکښي وکې؟
حاجي صاحب د سګرېټ یو اوږد کش واخیست. خړ لوګی ئي د تور آسمان پر لور پوف کړ. له هر احساسه خالي مخ ئي راواړاوه، راته وي ویل:
ــ د ژوند یوې ورځي ته ورګرځم.
ــ بس، یوازي یوې ورځي ته؟
ــ هو!
ــ کمې ورځي ته؟
حاجي صاحب لږ فکر وکړ. بیا ئي وویل:
ــ لس کلن به وم. ماځیګر وو. مور مي پر نغري توره چای جوشه ایښې وه، چای ئي جوړولې. د جوشو اوبو له بخاره د هېلواو شنو چایو ګډ بوی پورته کېدی. پلار مي د ماښام دپاره یو زوړ څراغ رغاوه، کله به ئي د ښیښې شرنګ پورته سو، کله به ئي د اوسپنې ورو پرزو ټک ټک. وړونه مي په سرای کي د توپ ډنډې پر بازۍ په جنګ وه. د ګاونډي په باغچه کي یوه غټ خره ګلان خوړل. ما پر بام کوترو ته کتل چي په غومبر وي، د وزرو شور به ئي د ماځیګر له باد سره ګډېدی...

له دې خبرې سره چوپ سو، بیرته ئي مخ واړاوه، د سګرېټ بل پوف ئي د آسمان پر خوا ور خطا کړ.

ما پوښتنه څنې وکړه:

ــ بس همدې ورځي ته؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سر ئې وښوراوه.
ــ هو، بس دغه.
سګرېټ تر ګوتو پورې را لنډ سوی وو.
ما بله پوښتنه ترې وکړه:
ــ که هغې ورځې ته ولاړې، بیا بېرته راځې؟
حاجي صاحب د مالمو د ماښام تیارو ته وکتل. د سګرېټ په آخري کش ئې سږي په دود ډکې کړلې، بیا ئې دود ورو ورو په هوا کې خپور کړ. سګرېټ ئې لاندې وغورځوی، پښه ئې پر کښېښوول، اور ئې ورمږ کړ.
په کراره ئې وویل:
ــ یه!
زه چوپ سوم.
حاجي صاحب په نرمه موسکا راته وویل:
ــ خوا مه بدوه، تا هم د ځان سره بیایم.
ما له یوې وړوکې وقفې وروسته ورته وویل:
ــ یه حاجي صاب... ستا سره نه، زه د وخت په هغه ماشین کې بل ځای ته ځم...
له دې سره ما هم و تور آسمان ته وکتل...
ځو ځېرې، ځو ورځې، ځو شپې مې د تور ماښام په تشې هوا کې ډېرې روښانې لیدلې...

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ